د افغانستان اسلامي امارت
لـوړو زده کـړو وزارت

بسم الله الرحمن الرحيم

امارت اسلامي افغانستان
وزارت تحصيلات عالي

پکتيکا پوهنتون
علمي او محصلانو چارو معاونيت
اقتصاد پوهنځی
مالي او بانکي څانګه

ليدلوری

مالي او بانکي څانګه به په راتلونکي کې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د پوه، متعهد او متخصص کاري ځواک په روزنې سره د هېواد په کچه يوه مخکښه او باکيفيته څانګه وي.

ماموريت

مالي او بانکي څانګه د اکاډميک چاپېريال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د مالي او بانکي چارو په برخه کې د ټولنې د اړتيا مطابق په ملي کچه سيال او با کيفيته تدريس، تحقيق او خدمات وړاندې کوي.

د څانګې تشکيلاتي چارت



د څانګې د آمر د دندو لايحه

۱. په ټولو اړوند چارو کې د څانګې استازيتوب؛
۲. د څانګې د غونډو مشري؛
۳. د څانګې د اجنډا او کاري پلان ترتيب؛
۴. د څانګې د غونډو د پرېکړو په اړه اصولي اجراات او د علمي کادر غړو د تقرر، بيا ځلې تقرر، منفکي، ارتقاء، تثبيت او د علمي ترفيعاتو اسناد بشپړول؛
۵. د څانګې اړوند درسي نصاب د تطبيق او د نظري، عملي او ساحوي تدريس د پرمختګ له څرنګوالي څارنه؛
۶. د څانګې او پوهنځي د پرمختګ او ښه والي لپاره نوښتونه وړاندې کول؛
۷. د څانګې د اړتياوو د پوره کولو هڅې؛
۸. د څانګې د اکاډميکو او اداري چارو تنظيمول؛
۹. د څانګې د هغو غړو لپاره قدرداني او ستاينې وړانديز کول چې، په تدريس، څېړنه او نورو اکاډميکو کړنو کې خپلې وړتياوې او نوښتونه وښيي؛
۱۰. د څانګې د هغو علمي کادر غړو لپاره د تاديبي کړنو وړانديز کول، چې تخلف او سرغړونه وکړي؛
۱۱. د پوهنځي رئيس او علمي شورا ته د څانګې د فعاليتونو راپور وړاندې کول؛
۱۲. په هر سمستر کې د څانګې د علمي کادر غړو د اکاډميکو کړنو ارزونه او د راتلونکو پرېکړو او تصميمونو لپاره د پوهنځي علمي شورا ته راپور ورکول؛
۱۳. د درسي مکلفيتونو او نورو اکاډميکو فعاليتونو تنظيمول؛
۱۴. د اړوند مسؤلينو لخوا د سپارل شويو نورو هغو فعاليتونو او دندو تر سره کول، چې د لوړو زده کړو په اصولو کې يې وړاندوينه شوي وي.

دغه چارت د مالي او بانکي څانګې د ۱۴۰۴/۱۰/۲۱ نېټې په (۱۱) ګڼه پروتوکول او د اقتصاد پوهنځي د علمي شورا د (۱۴۰۴/۱۰/۲۴) نيټې په (۱۱) ګڼه پروتوکول کې تائيد شوی دی.